د افغانستان د زیارکښانو تولنیز انجمن ( د شیرزاد لیکنه)

۰۸ سپتمبر ۲۰۱۴

## ښکیلاک، آرامتیا که د جنایت زیاتوالی؟

ځیني ډالر اخیستونکي ښکیلاک یو برکت بولي، په دي کي عمدتا د «مدني تولني» اجیران شامل دي. ځیني سیاسي شوده ګان د طالبانو د ستم او جنایت له امله ښکیلاک یو برکت بولي او په هره خبره کي د ستمګرو منندوي له یاده نباسي، په دي منځ کي د نوکرانو خبره دومره ښکاره ده چي د یادولو ارزښت نلري، هغوئ چي امریکایي او ناټویي ستمګران خپل اصلي اربابان ګني.

په دې جنایتون کي دومره د دموکراسی خبرې کیږي چي ته وایي ګواکې بې له هغه ساه نه اخیستل کیږي، خو پوښتنه دا ده چي په هغه هیواد کي چي ۴.۵ میلیونه انسان یي بیکاره وي، وږي وي او هره ورځ «دموکراتیک»بمونه او د طالبانو فاشیستي ستمونه په کي زیارکښان وژني ، آیا دموکراسي واقعا کومه مانا لرلی شي؟ هو، دموکراسي د سرمایه دارانو او لوټمارانو لپاره او استبداد او ستم د زیارکښانو لپاره!

که یوه ګړی پر هغو جنایتونو سترګی پټي کړو چي بهرنی ستمګران او طالبان او تویکواله تنظیمي لوټمار یي تر سره کوي، په داسي یوه پلازمینه کي چي یوازې د سرطان او اسد په میاشتو کي د ۵۴۲ جنایي پیښو شاهد وي او له امله یي د ۷۸۲ کسانو لاس هتکړی شي، له دموکراسي څه چي د دموکراسی له کاریکاتوره هم غږیدل، یوی بیخوندي توکی ته پاتي کیږي.

د جنایي جرمونو آمر محمد فرید افضلي رسنیو ته ویلي دي چي د پورته دوو میاشتو په ترڅ کي د غلاوو ۱۲۸ لویي او وړي پیښي په کابل ښار کي تر سره شوي چي په تړاو یي ۱۸۳ کسان نیول شوي دي. آیا په هغه هیواد کي چي یوازې په پلازمینه کي د دوو میاشتو په ترڅ کي ۱۲۸ غلاووې کیږي، د دموکراسي ډول وهل، عوامفریبي نه ده؟ دموکراسي د زیارکښانو لپاره هغه وخت مانا لرلی شي چي د یوې مړی ډوډۍ لپاره حیران نه وي او اړ نشي چي غلا وکړي.

بیوزلي د ښکیلاک د جنایتونو یوه برخه ده. هر چیرې چي بهرنی ستم وي، هلته جنایي جرمونه هم زیاتیږي. ځکه په ښکیلاکمینه کي یوه وړه فیصدي چي د پانګوالو او سوداګرو او فیوډالانو په نامه یادیږي، افسانوي شتمني تر لاسه کوي خو اکثریت خلک چي زیارکښان دي، لوټل کیږي، بیوزله کیږي، وزګاره کیږي، وژل کیږي او بالاخره اړ کیږي چي د ارزانه سرتیرو په شان د پانګوالو لپاره جنایي جرمونه تر سره کړي څو خپلي کورنی ته یوه مړی ډوډۍ ویسي.

جرمونه هغه وخت پای مومي، چي ولږه نه وي!